مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو ۲۰۲۳/۰۹/۱۱

# د ښپو وحشي وير

بيري!
زه نور ستړی شوی یم سفر نه
لکه وچه، ژیړه پاڼه د یو باد ترخه لمن کې.
نن مي ته بوځه کوم ځای ته چې دي زړه وي
زه نن نه غواړمه لار درته وښایم

*****

بيري!
غواړم د دي تور توپان د سویو چیغو منځ کي
لکه بوره د مړه زوی سرته له ډيري ژړا وروسته شم بیهوشه
د ښپو له دي تک سپین او له وحشي ویر سره یو ځای
همدا هسي بې پروا په مخه درومه
نن له مانه د چا پته
او د کور لاره مه غواړه!

*****

اې د سیند د غاړي بوټیه!
زموږ دواړو تقدیر یو دی
زما ستړي ـ ستړي متي
ستا د شنو لاسو په څیر
د اوبو وړیو په چیغارو زخمي کیږي
زه او ته د مرستي نه یو
غبرګ لاسونه مو ماتیږي
که له میني ښخه تبنتو
زندګي بې مانا کیږي
نو بيري!
دا د سیند د غاړي بوټی هم راواخله
*****


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

نو بیړۍ!
ستړی شوی یم سفر نه
غواړم خپل جسم ته ستون شم
تیاره راوله اې خدایه
لمر مې ګوتو کې د زخم غوندې درد کا
رڼاګانې مې پښو لاندې ماتیږي




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ